**Presidential Message on Eid al-Fitr in Pashto**

زه په دې خوشحاله يم چه نن د دنيا مسلمانانو ته ددې واړه اختر مبارکي وايم. د روژې په مياشتې کې قران شريف په حضرت محمد باندې نازل شوی او مسلمانان تر اوسه پورې د روژې په مياشتې کې د قران شريف تلاوتونه او ختمونه کوي. مسلمانان د روژې په مياشتې کې د پاک خدای د رضا د حاصلولو په خاطر رياضت اوباسي او خير خيرات کوي.

د روژې په دې مياشتې کې مسلمانان په ټولې دنيا کې بې وزلو ته د کومک او خذمت لاس اوږدوي، په ښارونو او په جوماتونو کې د روژه ماتې د سترخوانونه غوړېدلي اوسي، او خوار او غريب ټول يو ځای روژه ماتوي. او ددې دپاره چه په دې مياشتې کې د پاک خدای نعمتونه هر چا ته رسېدلي اوسي، دينداران په هر ځای کې د خوړو، جامو او نغدو پيسو خيراتونه کوي. مسلمانان اکثر وخت د نورو اديانو او مذهبونو پيروان هم روژه ماتې ته رابولي، او دا د هغوي زغم او حوصله ښيي.

د واړه اختر په موقع مسلمانان په خير د روژې د تېرېدو او په نفس او شيطان باندې د کاميابېدو خوشحالي کوي. د اختر دغه خوشحالۍ د يو ملک نه بل کې فرق کوي. په مصر کې د لاټينونو د لګولو نه نيولې په پاکستان کې د اتشبازۍ او په نايجير کې د يو بل د دعوت کولو پورې رواجونه شته. د اختر په ورځ خپل خپلوان، ملګري، دوستان، او نور سره راټولېږی او يو بل ته د اختر مبارکي

ورکوي، او د خدای د رضا دپاره د ایستلو ریاضتونو خوشحالی کوي.

د اختر دا خوشحالی مونږ ته ښیي چه اسلام هم زمونږ په وطن کې په میلونو او هم په نورې دنیا کې په میلیاردونو خلکو ته د هیلو او امېدونو پیغام دی. د روژې میاشت مونږ ته دا هم په یاد راوړي چه اسلام د ځان سره د علم او پوهې داسې یو تمدن هم راوړی چه بشریت ته یې زیاته ګټه رسولې ده.

دلته په امریکا کې مسلمانانو ددې ټولنې په ډېرو ساحو کې لکه تعلیم او تربیه، ساینس، قانون، طبابت، او داسې نورو کې زیات خدمتونه کړي دي. زمونږ هغه عسکر چه مسلمانان دي او زما په حکومت کې مسلمان ماموران ټول په صداقت او ایمانداری ددې ملک او د خپلو وطندارانو خدمت کوي، او د سولې او امن په یوې دنیا کې د ازادی، او عدالت دپاره د امریکا د ارزښتونو د ساتلو دپاره یې کلکه ملا تړلې ده.

زه او ښځه مې دواړه په امریکا او ټولې دنیا کې مسلمانانو ته ددې واړه اختر مبارکي وایو، او دوعا کوو چه د روژې د میاشتې نعمتونه او مزایا ټول کال ستاسو د ټولو په نصیب شي.